په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی

# مطبوعاتي اعلامیه

۱۱ اکتوبر ۲۰۲۴
لا ډیرو معلوماتو لپاره دغه بریښنالیک ته ایمیل وکړئ: spokesperson-UNAMA@un.org

## د نجونو نړیوالې ورځې په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او د یوناما مشرې اعلامیه

کابل – د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې او افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) مشرې، روزا اوتنبایوا د نجونو نړیوالې ورځې په مناسبت نن د اکتوبر پر ۱۱مه یوه اعلامیه خپره کړه.

آغلې اوتنبایوا وویل، "موږ په افغانستان کې دغه ارزښتناکه ورځ په ډیر خپګان سره نمانځو، ځکه چې واکمنو چارواکو د ۱۱۲۰ ورځو څخه راپدېخوا، د ۱۲ کلنو څخه د زیات عمر لرونکو نجونو زده کړو باندې بندیز لګولی. دا یوازې میلیونو نجونو لپاره نه، بلکې د کورنیو، ټولنو او ټول هیواد لپاره د ۳ کلنو څخه د زیاتو فرصتونو د ضایع کیدولو په معنی ده".

اوتنبایوا وویل، "د هرې ورځې په تیریدو سره، د نجونو او ښځو ژوند ته لا ډیر زیان اوړي. افغانستان د سولې، بیارغونې، او سوکالۍ ته د رسیدو لپاره مخ پر وړاندې نه، بلکې شاته روان دی".

اوتنبایوا وویل، "زه د دغې موقعې څخه په ګټې اخیستنې سره یو ځل بیا له واکمنو چارواکو څخه غواړم چې خپله تګ لاره بدله کړي. زه د افغانستان ښځو او نجونو سره  ژمنه کوم چې موږ به هیڅکله د هغوی لپاره د خپل غږ اوچتولو څخه لاس وانخلو، حتی کله چې نور د هغوی د چوپتیا هڅه کوي".

د ۲۰۱۱ کال د ډسمبر میاشتې په ۱۹مه نیټه، د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د ۶۶/۱۷۰ پریکړه لیک تصویب کړ چې پکې د اکتوبر ۱۱مه نیټه "د نجونو نړیوالې ورځې" په توګه وپېژندل شوه، ترڅو د نجونو حقونو او د هغوی ځانګړې ستونزې چې ورسره په ټولې نړۍ کې مخامخې دي وپېژندل شي.

د ۲۰۲۴ کال موضوع "راتلونکې لپاره د نجونو لیدلوری" دی چې هم د بیړنۍ اقدام او هم تل پاتې هیلو لپاره د اړتیا ښکارندویې کوي. د نجونو نوی نسل په غیر متناسب ډول له نړیوال اقلیمي، شخړو، نیستي ناورینونو او د بشري حقونو او جنسیتي برابرۍ په برخه کې په سختو لاسته راوړنو باندې د خنډ له کبله اغیزمن شوی دی.

یوناما ته د امنیت شورا د ۲۶۲۶ (۲۰۲۲) پریکړه لیک له مخې ماموریت ورکړل شوی کوم چې بیا د ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) پریکړه لیک او ۲۷۲۷ (۲۰۲۴) پریکړه لیک له مخې تمدید شو. دغه ماموریت یوناما ته د بشردوستانه اوصولو، بشري حقونو، ښځو او انجونو برابرۍ، ټول ګډونه حکومتولۍ، انعطاف، او اقتصادي ثبات سره سم د بشردوستانه مرستو د ودې او ملاتړ دنده ورکوي، همدارنګه په افغانستان کې د سولې او ثبات لپاره له ټولو ملي او نړیوال اړخونو سره د اصولي او رغنده ښکلتیا لپاره زموږ د دفترونو څخه د ګټې اخیستلو سپارښتنه کوي.

پای

***